مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۵/۱۰/۱۶

# د زلفو تار مې

د زلفو تار مې پراور وسوځـيـد را وغورځـيده
د زنې خال نه مې ايرې را تاو شوې وسوځيده

مـا د جـانـان د کـور تـر مخـه کشمالي وکـرل
د رقيبـانو پـه لاس وچ شـول را ونـه ټـوکـيـده

د عـشـق سنـدره د وطـن بـه مـو په جـار ويـلـه
د تور دوښمن په لاس زندۍ شوه چا وا نه وريده

د مينتـوب لاره وريښمـينه بـخمليـنـه وه خـــو
د ميناڼو پر پښو سور اور شو پرې وسـوځـيـده

نږديتوب رنګ مو د کارغانو په مخوکو کې لاړ
کـرکـه راپـورتـه شـوه د سـتـرګـو رڼـا وتـښتـيـده

نن د هـيـواد فـضـا ساتـنـه هـوابـاز بـه کـوي
ملا ساينسي علم حرام ګڼـي ، پـرې و غـمـيده

اوس له ګاونډه ټپوس پورته دی پرموږه بلوسي
د ميـړنـو کـاروان راغـونـډ نـه شـو ونـه رسيده

د کابـل پـيـغـلې تـر آټــکه زلـفـــې وغـــوړوي
چې ښــکته پورتـه مـو ځوانان سره را وښوريده



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ